مطبوعاتي اعلاميه

# پخواني مجاهدين په ځلونو د امريکا له نېشه چيچل کېږي؛ نو څه وخت عبرت اخلي!؟

دا ځووم ځل دی چې امريکا د پخوانيو مجاهدينو هڅو او سزښندنو ته پاملرنه نه کوي او لرې يې غورځوي. په بدل کې يې هغه ژمنه مهره چې يو سيکولر او ډيموکراټ شخصيت دی او د مفکورې او احساساتو له مخې د افغانستان له مسلمانو سره هېڅ اړيکه نه لري، قدرت ته رسوي.

کله چې پخوانيو مجاهدينو په کلک عزم او اخلاص د شوروي اتحاد پر وړاندې جهاد او مبارزه وکړه، الله سبحانه وتعالی عزت او نصرت ورکړ، له همدې امله يې د خلکو په زړونو کې ځای ونيو. خو په ۲۰۰۱ز کې له بن کنفرانس وروسته يو شمېر پخوانيو مجاهدينو د افغانستان سياسي برخليک او وثيقه په ډېرې سرټيټۍ او ذلت د اشغالګرې او کافرې امريکا منګولو ته وسپاره او عزت يې له امريکا او غرب سره په دوستۍ کې ولټاوه. له دې امله الله سبحانه وتعالی دوی امريکا ته پرېښودل؛ ځکه دا د الله سبحانه وتعالی سنت دی چې هره ډله چې اسلام ته نصرت ورکړي، بريالۍ او سرلوړې کوي يې او هره ډله چې د الله سبحانه وتعالی له دين سره خيانت وکړي، ذليله او رسوا کوي يې.

امريکا په تېرو ۱۹ کلونو کې په خپل منفعت محوره سياست يوه ډله پخواني مجاهدين د متاع او استهلاکي توکو په څېر وکارول. هغوی ته يې د امريکايي نظام د مشروعيت ورکولو لپاره په قدرت کې ونډه ورکړه او د کاربدلو د وخت له تېرېدو وروسته يې د قدرت او سياست له صحنې وايستل. لکه څنګه يې چې د دوی ځينې مخکښ رهبران فزيکي او شخصيتي ترور کړل، نو تر ډېره د خلکو له سياسي ملاتړه هم خلاص شول. له امريکا او ناټو سره دوستۍ هم د دغو رهبرانو اړيکه له خپل خالق سره خرابه کړه او هم يې په خلکو کې خپل اعتبار او مقام له لاسه ورکړ.

نن چې يو شمېر پخواني مجاهدين د «ټول شموله» حکومت دعوه لري، دا کوم اساسي دريځ نه دی چې د اسلام د مبدا پر اساس وي او يا د اشغالګرې امريکا اجنډا وګوابني، بلکې دا کار د همغو تېرو سياسي تېروتنو تکرار دی، چې موخه يې امتياز اخيستل دي او د دوی له لاسه وتلي قدرت او عزت سره هېڅ مرسته نه کوي.

حزب‌التحرير يو ځل بيا مخلصانه تذکر ورکوي چې اوس هم د جبران فرصت شته، چې له خيانتونو او مکررو ترسره شوو حوادثو عبرت واخلي او الله سبحانه وتعالی ته توبه وباسي. پر دې سربېره د امريکايي اشغال او د جمهوريت او ډيموکراسۍ د مفکورو پر وړاندې په درېدو او د اسلامي ارزښتونو د حاکمولو لپاره په مبارزه له الله سبحانه وتعالی او خلکو سره خپل عزت بيا ترلاسه کولی شي او له دې لارې خپلې ګناوې جبران کړي. الله سبحانه وتعالی رحمن او رحيم ذات دی او انسانان د خپلو اعمالو د خاتمې پر اساس محاسبه کوي. (**إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ**) نازعات:۲۶ آيت. له شک پرته په دې کې د هغه چا لپاره عبرت دی چې (له الله متعال څخه) ووېرېږي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**